مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۱۲/۲۳

# د هجر لمبې

ستا د راتلو هم بهــــــاني شو لې تير
پر ما مسکين باندی نخری شو لي تير
ستـــــا د جفا په چړو ډير وم زخمي
ځـــــکه دردونو ، په ما شپې شولي تير
پروت اتـــکړی کي ، د زولفا نو ومه
بيا دي د زلفو ، زو لنـــي شو لي تير
ستړی ستو مـــانه چی وم ، ستا په ژړا
هغه د اوښــــــــکو ، قافلي شو لي تير
چی په بيلتون کي دي ، په اور وريتيدم
اوس دي د هجر سرې لمبې شو لي تير
په سراسر کي ، زمـــا د ژوند په قامت
د انتظـــــــار لويې دورې شو لي تير
په لوړ آسمــــــان کي ، د يادونو زما
ستا د غمــــونو خاطرې، شو لي تير

سيد عبيد الله نادر
۱۳۷۶پيښاور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ